د مطبوعاتو رياست

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت

هفته نامه آبادي اوونيزه

ABADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

شنبه، د شعبان المعظم ۸مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال

#۳۹




# سرليکنه

د مالي ثبات کمېټې دوهمه غونډه چې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي عالي شورا، مالي ثبات کمېټې غړو او د مجوزو بانکونو سهمدارانو په ګډون د روان لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۲۲مه نېټه د افغانستان بانک د غونډو په تالار کې ترسره شوه، په بانکي سکټور کې د شته ستونزو د له منځه وړلو په اړه خبرې اترې وشوې. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند چې د يادې غونډې مشري يې کوله، د خبرو پر مهال وويل، هېوادوالو ته د غوره بانکي خدمتونو وړاندې کول د بانکي سکټور په وده او د هېواد په پرمختګ کې مهم رول لوبوي. نوموړي زياته کړه، چې ځينې ستونزې شته او لا تراوسه په بشپړ ډول نه دي حل شوې. محترم ملا صاحب د مجوزو بانکونو د سهمدارانو او مالي ثبات کمېټې له غړو وغوښتل څو په ګډه د دغې ستونزې په حل کې همکاري وکړي.

د افغانستان بانک د هېواد په اقتصادي معادلاتو کې اساسي رول لري. د انفلاسيون د مديريت او د نرخونو د مبادلې د کنټرول ترڅنګ، د هېواد پولي سياستونه تنظيموي او د ټولو خصوصي بانکونو ترمنځ د پول په حيث کار کوي. د اسلامي امارت له واکمنېدو سره د افغانستان بانک چارې يو څه له ستونزې سره مخ شوې، چې اساسي لامل يې د نغدو پيسو نشتون او د امريکا له لوري د افغانستان د شتمنيو کنګل کېدل و. همدا راز د شته بنديزونو له کبله له نورې نړۍ سره په راکړه ورکړه کې ستونزې هغه څه و، چې د افغانستان د بانکدارۍ سيستم يې له ستونزو سره مخ کړ. خو د افغانستان اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د افغانستان بانک سالمې رهبرۍ له يادو بنديزونو سره سره په هېواد کې د اقتصادي او بانکي وضعيت د کنټرول له پاره شپه او ورځ هلې ځلې وکړې، چې له نېکه مرغه د همدغو هڅو په نتيجه کې د امريکا له لوري د افغانستان پر بانکي سيستم وضع شوي بنديزونه تر ډېره بريده بې اغېزې ثابت شول. اسلامي امارت د بانکي سکټور د کارونو درست مديريت په پار، د نورو کارونو ترڅنګ د مالي ثبات کمېټې غونډې هم پر خپل وخت ترسره کړې دي، چې مشرې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر غاړه ده. د مالي ثبات کمېټه د مالي سيستم په اړه د افغانستان بانک لخوا وړاندې شوي راپورونه ارزوي، د هېواد مالي ثبات پر وړاندې د مالي کړکيچونو د مديريت او له منځه وړلو په تړاو اړين اقدامات کوي او دغه راز د هېواد د قوانينو او د نړيوالو منل شويو معيارونو په پام کې نيولو سره د کمېټې کاري کړنلارې او پاليسۍ ترتيبوي. د دې اقداماتو له ترسره کېدو څخه د اسلامي امارت موخه داده چې بانکي سکټور سره له دې چې بنديزونه پرې وضع شوي، پر خپلو پښو ودروي او شته ستونزو ته يې ور حل لارې پيدا کړي. په دې چارې سره به له يوه لوري په نړيواله کچه د افغانستان بانک اعتبار بېرته ترلاسه او له بل لوري به د اقتصادي ستونزو د له منځه وړلو ترڅنګ په نړيواله کچه زموږ سوداګري پياوړې شي. همداراز د بانکي سکټور په غښتلي کېدو سره به په هېواد کې د سترو اقتصادي پروژو د پيل او د پانګونې له پاره زمينه برابره شي. دا ټول هغه څه دي چې کولای شي په اقتصادي لحاظ افغانستان پر خپلو پښو ودروي.

## دومین نشســـــت رهبری شورای عالی اقتصاد، کمیته ثبات مالی و سهمداران بانک های مجوز برگزار شد



۲ مه صفحه

## د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال سلاکار د خصوصي روغتونونو ټولنې له استازو سره وکتل



۳ مه صفحه

## د واخان دهليز اقتصادي ارزښت ته کتنه



۴ مه صفحه

# دومین نشست رهبری شورای عالی اقتصاد، کمیته ثبات مالی و سهمداران بانک های مجوز برگزار شد



دومین نشست رهبری شورای عالی اقتصادی امارت اسلامی افغانستان، کمیته ثبات مالی و سهمداران بانک های مجوز به تاریخ ۲۲ دلو سال جاری در تالار جلسات د افغانستان بانک برگزار و در مورد حل مشکلات موجود در سکتور بانکی بحث و گفتگو شد.

این نشست که به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء تدویر گردیده بود، ملا محمد ناصر آخند سرپرست وزارت مالیه، الحاج ملا هدایت الله بدری سرپرست د افغانستان بانک و نمایندگان سهمداران بانک های مجوز حضور داشتند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در جریان صحبت های شان در نشست یاد شده نقش سکتور بانکی را در بازسازی و پیشرفت کشور ارزشمند خوانده، افزود، که ارائه بهترین خدمات بانکی به هموطنان در رشد سکتور بانکی و توسعه کشور نقش مهمی ایفا می نماید. وی در کنار پیشرفت های به وجود آمده در بخش سکتور بانکی به برخی مشکلات نیز اشاره کرد و گفت که مشکل نقدینگی یکی یا دو بانک هنوز به طور کامل حل نشده است. محترم ملا صاحب از سهمداران بانک های مجوز و اعضای کمیته ثبات مالی خواست تا در حل این مشکل مشترکا همکاری نمایند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند به هموطنان خویش اطمینان داد که امارت اسلامی برای حل مشکلات اقتصادی مردم گام های قاطع برداشته و در این زمینه تعهد کامل و پلان های دراز مدت دارد. وی به طور نمونه ایجاد فرصت های شغلی برای مردم، کنترول انفلاسیون، استخراج قانونی معادن، معیاری نمودن سکتور زراعت، مدیریت آب، فراهم نمودن زمینه و شرایط برای سرمایه گذاری داخلی و خارجی و بسیاری از زمینه های دیگر را برشمرده و گفت، دستیابی به چنین هدف بزرگ برای حکومت دشوار است. محترم ملا صاحب هماهنگی و همکاری سهمداران بانک های مجوز، تجار ملی و سرمایه گذاران را در راه رسیدن به این هدف مهم خواند و از آنان خواست تا در این زمینه با امارت اسلامی همکاری کامل داشته باشند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء سهمداران بانک‌های مجوز را به کشور دعوت نموده و از آنها خواست، تا از نزدیک بانک‌های خود را به نحو بهتر مدیریت کرده و در رشد و ترقی سکتور بانکی کشور سهیم باشند. محترم ملا صاحب به نمایندگی از امارت اسلامی به آنان اطمینان داد که در چوکات قانون به تمامی مشکلات آنان رسیدگی خواهد شد.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در پایان این نشست، جلسه کمیته ثبات مالی را مهم خوانده و ابراز امیدواری کرد که تداوم این جلسات در آبادی کشور، به ویژه در حل مشکلات سکتور بانکی مفید واقع خواهد شد.

## د ریاســـت‌الوزراء اقتصــادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روسیې فدراسیون د ولسمشر له سلاکار سره وکتل



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۲۲مه نېټه له غرمې وروسته د روسیې فدراسیون د ولسمشر سلاکار او د اقلیم په برخه کې د ولسمشر ځانګړي استازي ښاغلي روسلان عادلګیرییف سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

د دغه لیدنې پر مهال چې په کابل کې د روسیې فدراسیون سفیر ښاغلي دیمیټري ژیرنوف هم حضور درلود، د افغانستان اسلامي امارت او روسیې فدراسیون ترمنځ پر دوو اړخیزو اقتصادي او سوداګریزو همکاریو، په افغانستان کې د روسیې پانګوالو پر پانګونې، د اقلیمي بدلون په برخه کې پر ګډې همکارۍ او د افغانستان او روسیې ترمنځ د سیاسي اړیکو پر پراخوالي خبرې وشوې.


د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ووېل، افغانستان او روسیه نبې سیاسي – اقتصادي اړیکې لري او دواړه لوري باید په ګډه د یادو اړیکو پراخېدو لپاره هڅې وکړي او چا ته اجازه ور نه کړي، چې دغو اړیکو ته زیان ورسوي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، اوسمهال په افغانستان کې د امنیت په ټینګېدو سره تر بل هر وخت د پانګونې لپاره

ښه زمینه برابره شوې او روسي پانګوال کولای شي دلته په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي.

محترم ملا صاحب د اقليمي بدلون په نړيوالو غونډو کې د افغانستان د استازي پر حضور ټينګار وکړ او زياته يې کړه، افغانستان په نړۍ کې د هغو هېوادونو له جملې څخه دی، چې د اقليمي بدلون له امله ورته ډېر زيان رسېدلی او د دغه زيان په بدل کې ورسره هېڅ ډول همکاري نه ده شوې.

ښاغلي روسلان عادلګيرييف په افغانستان کې له راغلو پرمختګونو ستاينه وکړه او ويې ويل چې د افغانستان د ورستيو پرمختګونو ښتينی انځور به د روسيې له حکومت او خلکو سره شريک کړي. نوموړي زياته کړه چې په افغانستان کې د بشپړ امنيت په راتلو سره ډېرې روسي پانګوال چمتو دي، چې دلته په مختلفو برخو کې پانګونه وکړي.



# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال سلاکار د خصوصي روغتونونو ټولنې له استازو سره وکتل

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال سلاکار حاجي محمد ابراهيم حکمت د خصوصي روغتونونو ټولنې له استازو سره وکتل. دغه ناسته د روان لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۲۵مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د خصوصي روغتونونو ټولنې استازو د مالياتي اسنادو د بررسۍ، د جوازونو د ورکړې او تمديد، د دايمي ملکيتونو نه شتون، برېښنا او پوښمبر نورو برخو کې خپلې ستونزې او وړانديزونه شريک کړل.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال سلاکار حاجي محمد ابراهيم حکمت د خپلو خبرو پر مهال وويل، د ۱.۱ مشرتابه او مسؤلين د ملت ستونزو ته متوجه دي او د خپلو هېوادوالو د هوساينې او په هره برخه کې د هېواد ځان بسيانې لپاره شپه او ورځ نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي.

همدارنګه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال سلاکار د خصوصي روغتونونو د خدماتو د کيفيت پر لوړوالي ټينګار وکړ او د دې ټولنې استازو ته يې ډاډ ورکړ، چې ستونزې او وړانديزونه به يې په دقيق ډول و ارزول شي او د حل په موخه به د رياست الوزراء عالي مقام سره شريک شي.



# نشست نوبتی کمیته سرمایه گذاری بیـــن الوزارتی در قصر مرمرین برگزار شد



در جلســـهٔ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بیـــن الوزارتی که بتاریخ ۲۴ دلو ســـال جاری در قصر مرمرین برگزار گردیده بود، طبق اجندا روی تعدادی از طرح های سرمایه گذاری ارائه شده از سوی سکتور خصوصی بحث شد.

در این جلسه طرح های تولید برق از زغال سنگ، تولید برق خورشـــیدی در شـــهرک های صنعتی، احداث فارم های زراعتـــی در شـــماری از ولایات و ایجـــاد ترمینل معیاری بارگیری و تخلیه زغال سنگ برای بحث پیشکش گردید.

پس از بحـــث همه جانبه، به کمیته هـــای موظف وظیفه سپرده شد تا با در نظرداشت نظریات کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی بـــا شرکت های ارائه دهنده طرح ها به منظور ارزیابی جوانب مالی، اقتصادی و تخنیکی طرح های مذکور نشست ها را برگزار وگزارش خویش را به تاریخ تعیین شده به این کمیته ارائه نمایند.

# در شهر کابل تا اکنون ٤٩٦٤١ گـــدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورســـتان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروســـه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۴۹۶۴۱ گدا تا ۲۵دلو ســـال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایان جمع آوری شده ۱۴۹۳۲ زن، ۷۹۱۹ مرد و بقیه ۲۶۷۹۰ طفل می باشـــند. در میان این اطفال ۷۸ تن آن بی سرپرست می باشـــند. اطفال بی سرپرســـت بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شـــامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشـــه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریســـت که سلسهٔ توزیع کمک های نقدی و مواد خوراکی ماهانه برای گدایان مســـتحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.

# د واخان دهليز اقتصادي ارزښت ته کتنه



## مقدمه

واخان د افغانستان د بدخشان ولايت ولسوالي او غزنۍ سيمه ده چې د منځنۍ اسيا په زړه او د افغانستان په شمال ختيځه برخه کې د شمال له خوا د پامير، د سوېل له خوا د قراقروم او د لوېديځ له خوا د هندوکش غرونو په منځ کې واقع دی. دا سيمه د واخان دهلېز يا درې په نوم د افغانستان د خاورې يوه نرۍ ټرانګه ده چې د سوېلي اسيا او مرکزي اسيا ترمنځ د پل حيثيت يې غوره کړی دی.

د امو سيند او واخان اوبه له دغه دهلېزه سرچينه اخلي او په همدې برخه کې افغانستان له چين سره ۹۲ کيلومتره رسمي، غيرمتنازعه او منل شوې پوله لري. همدارنګه واخان د پاکستان او تاجکستان ترمنځ پرته سيمه ده؛ د ګوګل مپ د نقشې له مخې، د دغو هېوادونو ترمنځ د پرتې يادې سيمې ډېره پراخه ساحه شاوخوا ٦٦ کيلومتره او کمه يې شاوخوا ١٦ کيلومتره اټکل شوې ده.

اسلامي امارت د واخان له لارې د چين سره د سړک پر ايستلو عملاً کار پيل کړی دی، دا يو مثبت او مهم ګام دی، ځکه له دې لارې به افغانستان له چين سره وصل شي. که چېرته اسلامي امارت وتوانيږي چې په دې لاره باندې سوداګرۍ او ترانزيټ ته زمينه برابره کړي، دا به نه يوازې د افغانستان پر اقتصادي وضعيت مثبت تاثير وکړي، بلکې کولای شي، چې د سيمې هيوادونو له پاره هم اقتصادي ارزښت ولري، ځکه په اوسني عصر کې د چين سوداګرۍ د توليږ نړۍ په مارکېټ کې خاص ځای لري او د مختلفو هېوادونو لپاره په مختلفو نورمونو باندې اجناس توليدوي.

## د واخان دهليز اقتصادي ارزښت

د واخان دهليز، د افغانستان، چين او سيمې د اقتصاد، تجارت او ترانزيت لپاره يو مهم مسير ګڼل کېږي، چې د چين سينکيانګ ايالت د افغانستان له بدخشان سره نښلوي. د افغانستان او چين تر منځ د واخان مهمې لارې جوړېدو اقدامات داسې مهال کېږي، چې دا لار ۲۱۰۰ کاله تاريخي مخينه لري او له شپرو لسيزو راهيسې ترې ګټه نه ده اخيستل شوې، چې په جوړېدو سره به يې افغانستان په اقتصادي برخه کې يو مهم ګام پورته کړي.



### الف: افغانستان ته يې ګټې

د واخان سړک په بشپړېدو سره به افغانستان د هېواد په شمال کې په بدخشان ولايت کې له چين سره ونښلول شي او له همدې لارې به له چين سره سوداګريزې اړيکې پيل شي. دغه لويه لار چين ته د مستقيمو وارداتو او صادراتو سربېره د ترانزيټ په برخه کې هم افغانستان ته ښه ګټه رسولی شي. چين د افغانستان له مهمو سوداګريزو شريکانو څخه دی، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ په کلني ډول د سوداګرۍ کچه له يو ميليارډ ډالرو څخه زياته ده.

د واخان له لارې به افغان او سيمې هېوادونو سوداګر وکولای شي، چې له چين څخه د افغانستان او د سيمې د اړتيا وړ توکي ترلاسه کړي او ترڅنګ به يې وکولای شو، هغه توکي چې له افغانستان څخه صادرېږي، په ځانګړي ډول وچې او تازه مېوې، منرالونه او نور توکي په اسانۍ سره چين ته صادر شي. په مجموعي شکل ويلای شو په هره اندازه، چې افغانستان وکړای شي د سيمې او ګاونډيو هېوادونو ته د تجارت لارې پرانيزي، نو دا د افغانستان پر اقتصاد مثبت تاثير لري، چې دغه تاثيرات بيا اوږدمهاله اقتصادي پرمختګ لپاره زمينه برابروي. د واخان دهلېز به د افغانستان په اقتصادي ودې، سيمه‌ييز اتصال او نړيوالې سوداګرۍ مثبت اغېز ولري.

ددې لارې په پرانيستلو سره نه يوازې زموږ د صادراتو او وارداتو په برخه کې اسانتياوې رامنځته کيږي بلکې چين او ګاونډي هېوادونه کولای شي له دې لارې ترانزيټ ترسره کړي.

د واخان دهلېز په پرانيستلو سره به افغانستان د ګاونډيو هېوادونو له فشار څخه د همېش لپاره خلاص شي، چې ډېرې وخت دوی د کراچۍ لار، ګوادر بندر او چابهار د سياسي موخو لپاره ترې ګټه اخلي او هر کال زموږ سوداګرو او هېوادوالو ته درانه مالي زيانونه اړوي.

که چېرې موږ وغواړو چې دغه انحصار مات کړو او له منځه يې يوسو، نو مهمه ده چې بايد د واخان لاره ژر تر ژره جوړه کړو، تر څو له چين هېواد سره مستقيماً وصل شو. ځکه د مرکزي اسيا هېوادونو سره موږ له مخکې نه لارې لرو او د صادراتو او وارداتو لړی په نورمال شکل دوام لري.

## ب: چين ته يې ګټې

د واخان سړک پر جوړېدو سره به چين په درېيو برخو کې ګټه وکړي چې په لاندې ډول دي:


دوی به وکولای شي خپل مالونه د افغانستان له لارې چې تر ټولو نږدې، مصوونه او د باور وړ لار ده، مرکزي آسيا هېوادونو، عربي نړۍ، ايران، ترکيې او اروپايي هېوادونو ته صادر کړي.

په دې ټول پوهېږي، چې د نړۍ لوی اقتصادي هېواد چين چې د توليد او صنعت په برخه کې په نړۍ کې ساری نه لري، د دوی له پاره مهمه ده، چې خپلو صادراتو او وارداتو ته په منظم شکل دوام ورکړي، پر همدې اساس دوی غواړي چې خامو موادو ته هم لاسرسی ولري او د افغانستان په شمول په مرکزي اسيا هېوادونو کې د نړۍ شل سلنه خام مواد موجود دي، چې د دې لارې په پرانيستلو سره د چين لاسرسی تر ټولو ښه ورته ممکن کېدلی شي.

او د دې لارې په جوړېدو سره به چين د سيالو هېوادونو له اقتصادي او سياسي فشار څخه خلاص شي، ځکه تر ډېره هغه بحري لارې چې اوس چين د سوداګرۍ په موخه استفاده ترې کوي د امريکا، هند، جاپان او د نورو هغه هېوادونو تر نظامي کنټرول لاندې دي چې چين ورسره سياسي او اقتصادي رقابت لري.

## ج: سيمې هېوادونو ته يې ګټې

د واخان دهلېز پر پرانيستلو سره به نه يوازې افغانستان او چين بلکې يو شمير سيمې هېوادونه (ازبکستان،ترکمنستان او ايران) هم ګټه ترلاسه کړي. په همدې ډول د ايران او چين لپاره چې شاوخوا د څلور سوه ميليارده ډالرو په ارزښت تړون لري د تبادلې لپاره تر ټولو اسانه او ارزانه لار پيدا شي.




## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۳.۵۰؋ | ۷۳.٦۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۵۳؋ | ۲۵۳؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۳۳؋ | ۱,۳۴؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۹,۲۲؋ | ۷۹,۳۲؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰.۷۹؋ | ۰,۸۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۸۵؋ | ۸۸۷؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۹۲.٦۲؋ | ۹۲.۷۵؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۹.۵۹؋ | ۱۹.٦۲؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۲۰,۰۱؋ | ۲۰,۰۴؋ |
| ۱ | چيني ين | ۱۰.۳۲؋ | ۱۰.۳۴؋ |

